ودان روښان ۲۰۱۸/۰۵/۰۸

ځنډن خو سم او پرځای ګام

سره له دې چې د برېښنايي تذکرو ويش په اړه ډېر پخوا پرېکړه شوې وه او بايد دغه بهير څو کاله مخکې پيل شوی وای چې په دې سره په ډېرو لکه اقتصادي، ټولنيزو او نورو برخو کې ستونزې لرې کېدې خو ځينو کسانو او ډلو هڅه کوله د دغه بهير مخه ونيسي. د دوی استدلال دا و چې په برېښنايي تذکرو کې دې د افغان کلمه نه ليکل کېږي نو ځکه خو دغه بهير د څو کسانو او ډلو د هوسونو ښکار شو. په ښکاره خو دوی ويل چې افغان د پښتون په مانا دی او نورو قومونو ته بايد ونه کارول شي. همدغو کسانو په لومړيو کې ويل چې په برېښنايي تذکرو کې بايد د هر وګړي قوم وليکل شي لکه: تاجيک، ازبيک، هزاره، ترکمن، بلوڅ، سيد، پشه يي، نورستاني او نور....
وروسته يې پام شو چې د افغانستان ځيني قومونه خپل تاريخي او توکميز پېژند لري خو په دري ژبه خبرې کوي که چېرې په برېښنايي تذکرو کې د هر چا قوم وليکل شي په دې سره به هغه د ژبې امتياز چې په فرهنګي برخه کې ئې تاجيکان د ځان بولي ترې بې برخې شي بيا به هر هغه څوک چې په دري ژبه خبرې کوي تاجيک نه بلل کېږي نو بيا يې بله پاڼه راواړوله چې نه! په تذکره کې دې د هيچا قوم نه ليکل کېږي چېدې مسلې د ډېرو قومونو حساسيت راپورته کړ چې ولې يې په لوی لاس قوميت مسخ او دوی په جبري توګه په يوبل قوم کې ورمنځل کړی شي چې هيڅ ډول توکميزه اړيکه نه ورسره د هغوی دا انديښنه پرځای وه. سره له دې چې د برېښنايي تذکرو ويش په اړه په لومړي ځل ولسي جرګې تصويب کړه چې د افغان کليمه دې د افغانستان ټولو وګړو ته وکارول شي خو کله چې د ولسي جرګې پرېکړه مشرانو جرګې ته لاړه هلته د مشرانو جرګې رئيس فضل هادي مسلميار له ناسوبتيا د هغه لومړي نايب محمد علم ايزديار ګټنه وکړه او په چلوتې او دسيسه يې نصاب مات او په دې اړه پرېکړه د ولسي جرګې او مشرانو جرګې ګډې کميټې ته محول شوه چې په ګډه کميټه کې بيا د رايو په اتفاق نه، بلکې د رايو په اکثريت وټېيل شوه چې په تذکره کې د نه د افغان او نه د چا د قوم يادونه وشي چې دا پرېکړه د افغانستان غوڅ اکثريت له کلک غبرګون سره مخ شوه. خلکو ګواښ وکړ چې کله په تذکره کې افغان کلمه ځای نه شي دوی تذکرې نه اخلي او دا داسې مهال و چې ټاکنې په مخکې وې او په ټاکنو کې د رنښت له پاره تر ټولو غوره لار همدا برېښنايي تذکرې وې نو ځکه خو ولسمشر اړ شو چې د يو تقنيني فرمان په ترڅ کې دا مسله په داسې بڼه حل کړي چې د افغانستان تابعيت تذکره کې د افغانستان هر وګړي پېژند خوندي وي په دې مانا چې په تذکره کې د افغانستان اساسي قانون څلورمې مادې، مادې څلورمې فقرې له مخې چې وايي: « د افغان کلمه د افغانستان ملت پر هر فرد اطلاق کېږي» په برېښنايي تذکرو کې وليکل شي خو اړينه ده چې د افغانستان هر وګړی په برېښنايي تذکره کې خپل ځانګړی قوم هم ووينې او هيڅوک ځان پردی ونه ګڼي، قوميت يا توکم يې د يو اکتسابي حالت له امله چې ژبه ده مسخ نه شي، د بېلګې په توګه سيدان چې عرب توکمه خو اوس د سيمې تر اغيز لاندې څوک په پښتو، څوک دري او څوک ان په ازبيکي او ترکمني ژبو ګړېږي چې که پېژند ئې د ژبې پرښت په جبري بڼه وټاکل شي نو دغه خلک خو بيا په هغو قومونو کې منحل کړای شول چې دوی په کې اوسېږي چې په دې کې به پښتانه سيدان، تاجيک سيدان، هزاره سيدان، ازبيک سيدان ... سيدان ولرو چې نه د منطق او نه هم د انصاف له مخې سم کار دی. د ولسمشر دغه تقنيني فرمان ولسي جرګې رد کړ دا چې څرنګه؟ دا جلا مسله ده چې ځيني کسان خرڅ شول، ځينو نورو د سياسي ماملې له مخې ځانونه بې توپېره واچول، لنډه دا چې ولسي جرګې دغه فرمان رد کړ خو خبره په دې ځای پای ته ونه رسېده بلکې د قانون له مخې فرمان مشرانو جرګې ته لاړ چې دا ځل د ايزديار منتر ونه چلېد بلکې مشرانو جرګې درايو په اتفاق تصويب کړ خو څرنګه چې ولسي جرګې رد کړی و نو اړينه وه چې په اړه يې د دواړو (مشرانو جرګې او ولسي جرګې) ګډه کميټه پرېکړه وکړي چې ګډې کميټې ته له دواړو جرګو(۸ – ۸) کسان ور وپېژندل شول، په ګډه کميټه کې د رايو په اکثريت وټېيل شوه چې په تذکره کې دې افغان کلمه ياده او هم دې دهر وګړي قومي پېژند وليکل شي. خو ځينو کړيو شور ماشور جوړ کړ چې نه دا مسله خو په ګډه کميټه کې د رايو په اتفاق نه بلکې د رايو په اکثريت تصويب شوې او قانوني نه ده، په داسې حال کې چې ګډې کميټې ښايي هيڅ اختلافي مسله د رايو په اتفاق ځکه نه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وي تصويب کړي چې په خپله نفس د موضوع همداسې دی يانې کومه مسله چې په دواړو خونو کې د اخلاف له امله ګډې کمېټې ته محول کېږي چې د ګډې کمېټې غړي هم له دواړو خونو غوره کېږي نو ځکه خو اختلاف په کې يو طبيعي مسله ده چې له اکثريت پرته بله لار نه لري خو په چا يې مني؟ دوی ګواښونه وکړل ځيني سياسي دلالانو ته چې غواړي يوازې له همدې لارې ځانونه مطرح کړي دا ښه پلمه په لاس ورغله او له دې مسلې يې هغه د يو پخواني سندرغاړي مالک جانه مالک جانه سندره جوړه کړه چې په ځلويښتو کالو کې يې په هر هغه واده کې بللې وه چې د ده ډله د ساز له پاره وربلل شوې وه. دوی همدا يوه خبره کوله چې افغان مانا پښتون نو ځکه خو بايد د نورو قومونو له پاره ونه کارول شي په داسې حال کې چې دا سمه نه ده ځکه چې له سلګونو کلونو راهيسې افغان يوازې پښتون ته نه بلکې د افغانستان ټولو اوسېدونکو ته اطلاق شوې د بېلګې په توګه افغان کډوال، افغان محصلين، افغان های مقيم امريکا واروپا او په لسګونو داسې نورې اصطلاح ګانې نو که داسې وي نو ټول افغان کډوال خو پښتانه نه دي، يا په بهر کې ټول افغان محصلين خو پښتانه، نه دي او يا په اروپا او امريکا کې ټول ميشت افغانان خو پښتانه نه دي بلکې د افغانستان ټولو قومونو اړوندان په کډوالو، محصلينو يا بهر کې ميشتو کې شته چې د افغان په نوم يادېږي. لرې نه همدا څو روځې مخکې د ولسمشر پخواني مرستيال محمد يونس قانوني د بن کنفرانس په اړه يوه غونډه کې څو ځله وويل چې د بن کنفرانس کې افغانانو دا نظر درلود يا په لومړي ځل افغانان د مهمې مسلې پر سر جرګه شوې ... همدا ډول د اجرايه رئيس دويم مرستيال حاجي محمد محقق په دې نږدې ورځو کې يوې ستري غونډې ته وويل چې ما افغان ها عادت داريم که.... دا په دې مانا ده چې دا مسله اوس د هر هغه وګړي په ذهن کې حک شوې چې په افغانستان زېږېدلی يا په يو نه يو ډول له افغانستان سره تړاو لري.

که له حقوقي پلوه هم دې مسلې ته وکتل شي نو له افغان کلمې انکار ستونزې راپيدا کوي لومړی خو هغه څوک چې ځان افغان نه ګڼي د افغانستان اساسي قانون له مخې خپل تابعيت تر پوښتنې لاندې راولي او بله دا چې د افغانستان اساسي قانون دوه شپېتمې مادې لومړۍ فقرې له مخې د افغانستان ولسمشري ټاکنو کې د نورو قومونو يا هغو کسانو نوماندي تر پوښتنې لاندې راولي چې د افغان کلمې مخالف دي، په دې مانا چې د دوه شپېتمې مادې لومړۍ فقرې له مخې د ولسمشري کانديدو لومړي شرط کې راغلي:... « د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار زېږدلی وي او د بل هېواد تابعيت ونه لري» اوس نو که څوک له افغانېته انکار کوي نو بيا د ولسمشري نوماندي حق هم له لاسه ورکوي. په داسې حال کې چې د افغانستان هر وګړی د قانون له مخې دا حق لري چې له شرايطو سره سم ځان يا هم بل څوک کانديد کړي. په لنډو کې ولسمشر سره له دې چې د برېښنايي تذکرو ويش بهير په اړه په ځنډ پرېکړه وکړه خو په ټوله کې يې د خپلې واکمنۍ په پير د ښو کړنو په کتار کې دا هم راځي چې په لومړي ځل يې افغانان په پرمختللي سيستم سمبال د تابعيت او پېژند له سنده برخمن کړل.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ